# WIDA Alternate ACCESS څه شی دی؟

WIDA Alternate ACCESS یوه ازموینه ده چې د K–12 ټولګیو هغو زده کوونکو ته ورکول کېږي چې د انګلیسي زده کوونکي په توګه پېژندل شوي او د پام وړ ذهني معلولیت لري.

WIDA Alternate ACCESS د زده کوونکو د انګلیسي ژبې مهارتونه په اورېدلو، لوستلو، خبرې کولو او لیکلو کې اندازه کوي.

## ولې زما ماشوم WIDA Alternate ACCESS اخلي؟

ستاسو ماشوم د انګلیسي زده کوونکي په توګه پېژندل شوی دی. د انګلیسي زده کوونکي هر کال د انګلیسي ژبې د مهارت ازموینه ورکوي. ډېر انګلیسي زده کوونکي د WIDA ACCESS ازموینه ورکوي. دلیل دا چې ستاسو ماشوم WIDA Alternate ACCESS ازموینه ورکوي عموماً لاندې لاملونه لري:

- ستاسو ماشوم د پام وړ ذهني معلولیت لرونکی پېژندل شوی دی.
- د هغه/هغې ښوونکي باور لري چې WIDA Alternate ACCESS چې اضافي ملاتړ او د پوښتنو د ځواب ویلو بېلابېل فرصتونه برابروي ستاسو ماشوم ته تر ټولو ښه چانس ورکړي چې د انګلیسي ژبې د پرمختګ مهارتونه وښیي.

### د انګلیسي ژبې مهارت

د انګلیسي ژبې د مهارت کچه دا ښیي چې زده کوونکی د انګلیسي د مهارتونو د زده کړې په بهیر کې په کوم پړاو کې دی او څومره کولای شي د انګلیسي ژبې په محتوایي درسونو کې برخه واخلي. کله چې زده کوونکي لوړو کچو ته ورسېږي، نور د ژبې د ملاتړ خدمتونو ته اړتیا نه لري چې د انګلیسي په مضمونونو کې ګډون وکړي.





WIDA is housed within the School of Education at the University of Wisconsin–Madison.
© 2025 Board of Regents of the University of Wisconsin System, on behalf of WIDA

## د WIDA Alternate ACCESS نمرې څنګه کارېږي؟

ازمویني ښوونکو سره مرسته کوي چې ووېني آیا زده کوونکي هغه ژبني مهارتونه لري چې د ټولګي په فعالیتونو کې په بشپړه توګه برخه واخلي که نه. د معلولیت لرونکي انګلیسي زده کوونکي هم کولای شي پېچلي ژبني او د اړیکو سیستمونه زده کړي. ستاسو د ماشوم ښوونکي د WIDA Alternate ACCESS پایلو څخه کار اخلي څو پرېکړه وکړي چې ستاسو ماشوم ته څنګه تر ټولو غوره تدریس وکړي.

نمرې ښوونکو ته دا هم ښيي چې ستاسو د ماشوم د علمي انګلیسي په زده کړه کې څه ډول پرمختګ کېږي، او ښوونځي سره مرسته کوي چې کوم د ژبې د ملاتړ خدمتونه برابر کړي. تاسو هم کولای شئ د همدې معلوماتو له لارې په ښوونځي کې د خپل ماشوم لپاره غږ پورته او ملاتړ وکړئ.

### د WIDA Alternate ACCESS لپاره چمتووالی

- ستاسو ماشوم ته اړتیا نشته چې د WIDA Alternate ACCESS لپاره مطالعه وکړي. دا ازموینه یو فرصت دی چې زده کوونکی وښيي په کومو لارو انګلیسي درک او کارولای شي.
- د WIDA Alternate ACCESS د ازموینې د پوښتنو بېلګې د WIDA وېب پاڼې د Alternate ACCESS Sample Items پاڼه کې وګورئ: **wida.wisc.edu/assess/alt-access/preparing/sample-items**.
- د ازموینې ورځې ته چمتووالی وکړئ: ډاډ ترلاسه کړئ چې ستاسو ماشوم کافي خوب وکړي او ناری وخوري.
- د خپل ماشوم له ښوونکو سره خبرې وکړئ چې د پایلو ترلاسه کولو وخت څه مهال دی، ستاسو د ماشوم ښوونځی دا نمرې څنګه کاروي، او ستاسو کورنۍ څنګه کولای شي په کور کې د ماشوم د ژبې پرمختګ ملاتړ وکړي.

### هغه پوښتنې چې تاسو يې کولای شئ د خپل ماشوم له ښوونکو څخه وکړئ




- د انګلیسي ژبې د پرمختګ موخې به څنګه ثبت او تعقیب کېږي؟
- زما ماشوم به کله WIDA Alternate ACCESS اخلي؟
- زه به د خپل ماشوم د WIDA Alternate ACCESS نمرې کله ترلاسه کړم؟
- نمرې څنګه مرسته کوي چې زما ماشوم د علمي انګلیسي په زده کړه کې پرمختګ وکړي؟
- تاسو څنګه پرېکړه کوئ چې زما ماشوم ته د انګلیسي ژبې خدمتونو ته نور اړتیا نه وي؟

WIDA™
UNIVERSITY OF WISCONSIN–MADISON

wida.wisc.edu
WIDA is housed within the School of Education at the University of Wisconsin–Madison.
© 2025 Board of Regents of the University of Wisconsin System, on behalf of WIDA